مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی
+

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۳/۲۸

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۵۷ مه پرله پسې برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایډیټ:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**ملکدان:** [1]: دا په «برمل» کې په «شکین الګد» [2] کې له شکین څخه تر اورګون پورې د سرک د غاړې په اوږدو کې او له شکین څخه ۱۰ مایله لیرې د دمې نیولو یو ځای دی. (په ۱۸۹۶ز کال کې) دلته د «سیف علي» [3] ټولنې د ۲۰ کورنو یو مؤقت کلی وو. سون توکي، اوبـهٔ او پوونده دلته ستـه خو کومه کرهنه نـهٔ ستـه. (آی. بي. سي)

**ملک دوست**: دا د کابل د چاردهي په دري کې یوه کلا ده چې د علاء الدین په ښارګوټي کې شامله ده. استوګن وګړي: ګدي هزاره ګان: ۵۰ کورونه؛ ۴ برجونه.

* **ملک خیل**: ۱۱ – ۳۴، ۴۱ – ۶۸ «ن»: دا د میدان په ولایت کې د غزني – کابل د سرک په لویدیځ او د لنګر د شمال په ۲ مایلۍ کې د یوهٔ سیند د غاړو په اوږدو کې یو کلی دی. په نوم نور ځایونه: د لوګر د ولایت په زرغون ښار کې د کلنګار د ختیځ په څو مایلۍ کې په ۶ – ۳۴، ۹ – ۶۹ «ن» کې؛ د کابل – غزني د لویې لارې په اوږدو کې د غزني د شمال ختیځ په شاوخوا ۳۰ مایلۍ کې په ۵۵ – ۳۳، ۴۰ – ۶۸ «ن» کې؛ د غزني په ولایت کې د مقر په سویل ختیځ کې په ۴۸ – ۳۲، ۴۹ – ۶۷ «ن» کې؛ د غزني په ولایت کې جاني خیلو ته نـېـږدې په ۴۶ – ۳۲، ۲۵ – ۶۸ «ن» کې.

---

1-MALI KDAN
2-Shakin Algad in Birmal,
3-Saifali


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

**ملک میان داد**: ملک میا داد: دا د منګلو په سیمي کې یوه کلا ده. دې کلا کې ۳۰ کورونه دي او کولای سي ۱۰۰ تنه جنګیالي چمتو کړي. دلته تل مدام باران کـېـږي. (آغا عباس)

* **ملیمه**: [4]:۱۹ – ۳۵، ۳۸ – ۶۹ «ن»: دا د پروان (کاپیسا) په ولایت کې د آساني په سویل ختیځ کې د پنجشیر د سیند پر غاړه یو کلی دی.

**مالستان**: ۱۸ – ۳۳، ۱۰ – ۶۷ : مالستان د غزني د ولایت یوه ولسوالي ده. دا ولسوالي ۱۹۳۰ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـي له ۲۰۲۲۶ تر ۴۷۱۶۶ تنو پورې چې بزګرې پرګنې دي اټکل سوی دی. دا ولسوالي له ختیځ لوري له جاغوري، له شمال لوري له ناور، له لویدیځ لوري له آجرستان او روزګان او د سویل له لوري له دای چوپان سره کرښه لري. مالستان ۱۴۱ کلي لري چې ۲۱ کلي ئـي له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Qajnaghtu | قج نغ تو | Nahor -i - Qozi | ناهورِ قوزي | | سیاه خاک | | جلګـۀ ملنګ |
| Kekak | ککک | | خار قول | | شغله | Mala Kasha | ماله کشه |
| Shina Ghorjak | | | شینه غورجک | Jasha | جاشا/ جشه | | میدان |
| Mulki | ملکي | | قولِ آدم | Moradina | موره دینه | | سیاه قول |
| | قریـۀ کمرک | Godai | ګودي | | پلِ حاجي بشیر | Abdana | اب دانه |
| Madar Qol | مدر قول | Siyah Shaghal (Siyah Shaghai) | | | سیاه شغال «سیاه شاغي» | Bocha | بوچه |
| Kosh Dad (Mun -duk) | | | کش داد «مُـن دکـ» | | چارشنبه | | کور سنګ «کالو- سنګ» |
| | سرخ جوی | Baloghu, | بلوغو | Sang Roz Wa Khosh Roz (Komov Mazur) | | | سنګ روز و خوش روز «کوموف مزور» ؟ |
| | حسن بلوچ | Qafzai | قاف زي | Khordak Zayedah | | | خوردک زاییده |
| | علومِ بن افشان «بل قي شان» | | سبزک | | نو دِه | Bad Ulum | باد علوم |
| | لال چکِ ملکي | Siyah Khasha | سیاه خاشه | Kundali, | کندالي | Ulum- i- Benafshan (Belqishan) | |
| Ghaighantu | غـَـیغن تو | Bughra | بغرا | Alqublan | القبلان | Lal Chak -i- Mulki | |
| | شینه دِه | | پل پائـین | Jambud | جمبود | Muridi | مریدي |
| | سبز دره | | نظار | Balagha | بالاغه | | شینه یا پشته خانه |
| | کهنه دِه | Dahba | ده به | Ghar Sang | غارسنګ | Bacha Lal | بچه لال/ باچا |
| Oli | اولي | | مونډه درخت | Moye Tu | موی تو | | میان ګل |
| | قریـۀ سر ناوه | | چهل بغتو | | سه پای | Takrak | تکرک |
| Quldi Ulya Jaka (Awly-Pashi) | | | قولدي علیا جکه «اولي پشي» | Madak | مدک | | قریـۀ میانه |
| Kaiani Zaida | کیاني زاییده | | دیوانه بولاغ | Qandi Jaka (Tala -Qand i) | | | قندي جکه «تاله قندي» |
| Mushyana Khana | موشیانه خانه | Jow Shu | جـَو شو | | کـُـنده بید | Kalanti Kamri | کلانتي کمري |
| Tughlu | تولغو | Sadak (Zardak) | | | سدک «زردک» | Ahan Kushta | آهن کشته |
| | سنګ دره | Wardah Malang | ورده ملنګ | Aspa | اسپه | | نورک |

[4]-MALIMA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Rubat Bashi | رباط باشي | Khar Bed Bashi | خاربید باشي | | ناسي «باشي» | | شغال دره |
| | قول ِ یحیی | Kosha | کوشه | | لغار جوی | | قول ِ خوشي |
| Suka | سوکه | | نیزار | Mobad | موبد | | تلخک |
| | جانه «جکه پشي» | | پای جلگه | Ghaighantu | غي غانتو | Dayzi | دي زي |
| | ریگ جوی ناوه | | گل کوه | | خوشحال | Jana (Jaka Pashi) | |
| Qalak | قلک | | شاه تپه | | ناوه جلگه | | دهان دره |
| Aye Barka | ای برکه | | ارچه | Shab Bakhair-i-Nawah Julga | | | شب بخیرِ ناوۀ جلگه |
| | گودي میر احمد | Shabar | شابر | | قریـهٔ حاجي | | سیاه سنگ |
| | شیرداغ «جانِ شیر داغ» | Nawah Jelga Shela | | | ناوه جلگه شیله | Sham Qol | شام قول |
| | غلام حاجي «غلام جي» | Yar Say | یار سي | | کل کوه | Sher Dagh (Jani Sher -Dagh), | |
| | کمرک | Bocha | بوچه | Jakmatur | جک مه تور | Jorah | جوره |
| | قاب جوی علیا | Qab Joye | قاب جوی | Qarya -i- Tamta | قریـهٔ تمته | Jawzi | جوزي |
| Oligak | اولي گک | | کدو | | جنگل | | قاب جوی پُشته |
| Zangar | زنگار | Dadi | دادي | Sar Bed | سربید | Ligai | لیگي |
| Qorughchi, | قوروغچي | Qarya -i -Dala (Saya- Khana), | | | قریـهٔ دادا «سایه خانه» | Dai Baraka | دای بارکه |
| Ghaighantu-i-Mir Ahmad | غي غنتو میر احمد | Baghar -i - Mir Ahmad | باغر میر احمد | Ghamquli -i -Mir Ahmad (Qarya -i -Mir Ahmad) | | | غم قلي میر احمد «قریـهٔ میر احمد» |

**ملي زي**: [5] : ۴۷ – ۳۲، ۳۲- ۶۸ «ج»: دا د ناصرو یوه اساسي څانګه ده. همدا شان په دی نوم یو کلی هم سته. (لودویګ آدمک)

**ملو خیل**: [6] :دا د ځاځیو په سیمي کي د „زبردست کلا„ او علي خیلو تر منځ د «کارایه» [7]د سیند په ښی غاړي په اوږدو کي یو کلی دی. (لمسدن)

* **ماما**: ۳۱ – ۳۳، ۵۷ – ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت دِ ناور د دښتي په ختیځ کي په قولِ سرخ کي یو کلی دی.

* **ماماګل خوږ**: [8] : ۴۳ – ۳۴، ۴۲ – ۷۰ «ن»: دا د کونړ په ولایت کي د کونړ د سیند په شمال او د درهٔ نور په شمال ختیځ کي یو کلی دی.

**ماماکه**: دا د دایکنډي هزاره ګانو یوه څانګه ده.

**ماما کلا**: دا د غلزیو په سیمي کي د „وازي خوا„ په ولسوالي کي له «کندر» [9] څخه تر کندهار پوري د سرک په اوږدو کي له „خان تره کي„ [10] څخه ۱۲ مایله لیري او له مقر څخه نـﺒـږدي ۳۲ مایله لیرې یوه کلا ده. دا کلا غوجلونه او د آسونو

5 -MALLIZAI
6 -MALU KHEL
7 -Karaia river
8- MAMAGUL KHWAR : د دغهٔ نوم مخي ته ئي په عربي الفباء «ماما ګل خوار» لیکلي دي - ژ
9 -Kundar
10-Khan Taraki


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

افسارونه او د پلي سرتېرو قرارگاه او دوه هټۍ لري چي د کلا په دننه کي دي. دا کلا دري دروازي او يو کاريز لري چي له کلا دباندې دی. (براد فوټ)

**مامه خاتون**: [11]: ۴۲ – ۳۴، ۸ – ۶۹ «ج»: دا د غرونو په هغې غرنۍ لړۍ کې يو کوتل دی چي د کابل دښته له کوهدامن څخه جلا کوي. له کابل څخه تر «زيارتِ شهيد» پوري سړک له همدې کوتل څخه تېرېږي او بيا چاريکارو ته ځي، د دې کوتل سر له کابل څخه په اتلسم مايل کي رسېږي. دا يو سخت کوتل دی خو بيا هم د ترانسپورتي کچرو د تگ لپاره عملي دی. (ميسن، آی. بي. سي)

**ماماخيل**: ۱۵ – ۳۴، ۵۹ – ۶۹ «الف»: دا د خوگيانيو په سيمي کي يو کلی دی چي د گندمک د سويل په پينځـۀ مايلی کي د «نيان رود» [12] د غاړې په اوږدو کي موقعيت لري. هغه بـېلابـېل کوچني کلي چي دا کلی جوړوي، کولای سي ۶۰۰ تنه جنگيالي چمتو کړي. د کلي تر شا و خوا د بـېلابـېلو ميوو وني او تاکستانونه راتاو دي.

د ۱۸۴۱ز کال د دسمبر په مياشت کي دې سيمي کي د تورن جرارد تر مشرۍ لاندې د مليشاوو يوه قطعه ځای پر ځای سوې وه. کله چي بغاوت وسو، تورن جرارد ته امر وسو چي له سيمي ووځي او جلال آباد ته په شا سي. دا امر ځکه په ډېـرې سختۍ تعميل سو چي خيبري مليشاوو ډېـر بد چارچلند درلود. خو د استحکام د ځواک بريدمن کننينگهم مخکي له دې چي په زوړورتيا سره په شا سي، وکولای سول د کلا دوه لوی مورچلونه وچوي او له منځه ئـې يوسي. په دې پېـښـې کي د دې ډلي ۳۸ تنه ووژل سول او ۴۱ تنه ټپيان سول. د «جزائيل چيانو» [13] بريدمن داسن او بومي بولندوی حيدر علي خان په دې پـېـښـې کي فوق العاده ډېـر وځليدل او همدا شان د شاه د سپارۀ دوهم ځواک رساله دار «جواهرسينگهـ» خپله زړورتيا وښودله.

کله چي جنرال پالک د کابل پر لور پرمختگ کاوۀ همدلته د ۱۸۴۲ز کال د آگست د مياشتي په ۲۳ نيټي د دښمن تر بريد لاندې راغی؛ د ياغيانو مشري حاجي علي او خير الله خان کوله، ، جنرال پالک دښمن ته ماته ورکړه چي تلفات ئـې درلودل او په خپله د جنرال پالک له ځواک څخه ۷ تنه ووژل او ۴۹ تنه ټپيان سول. له دې پـېـښـې وروسته د ماماخيلو کلی او کلا دواړه وسوځول سول.

ماماخيل د ماليالتو د راټولولو په موخي د «مانوزيو» [14] له کلي سره يو ځای سوی دی. استوگن وگړي: شيراز خوگياني. (جرارد، پالک، آی. بي. سي)

**ماماخيل**: دا د هزار درخت او د هاريوب د سيندونو د يوځای کيدلو ټکي ته نېـږدې (کوز؟) د سيند د ښي غاړې په اوږدو کي او سيند ته نېـږدې يو کلی دی. استوگن وگړي: احمد خيل ځاځي. (ستيوارت)

---

[11]-MAMA KHATUN
[12]-Nian Rud
[13]-Jazailchis
[14]-Manuzai


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

**ماماخيل**: ۲۶ ــ ۳۴، ۴۹ ــ ۷۰ «ج»: دا د جلال آباد د ولسوالي د کامي په علاقه داری کي د «بازید خیلو» [15] او «مايار ـ اکبرخان» [16] تر منځ قریب نیمايي لارې کي یو کلی دی. استوګن وګړي: مهمند او وردک. (جنکنیز)

**مامکي**: وګوری: مامکه

**مامي**: [17]: دا په کافرستان کي یو کوتل دی چي له پورتـنـي پيچ څخه تر پورتـنـي باشګل پوري لاره ورڅخه تـېـرېـږي.

**مامو غندي**: [18] :دا د څمکنیو په دري کي یو کلی دی چي د «ګبر منګلو» [19] یو کلی دی. (آی. بي. سي)

**ماموزي**: [20]: ۳۰ ــ ۳۳، ۸ ــ ۶۹ «الف»: دا یو کلی دی چي د میرزکي له کوتل څخه قریب ۳ مایله هاخوا له کورم څخه تر ګردیز پوري د سرک په اوږدو کي موقعیت لري.

* **ممري** : [21]: ۳۲ ــ ۳۳، ۱۰ ــ ۶۹ «ن»: دا د ګردیز د سویل لویدیځ په شاوخوا ۷ مایلی کي د ګردیز د سیند د غاړې په اوږدو کي یو کلی دی.

**ماموکه**: ماماکی: [22]: ۲۷ ــ ۳۴، ۴۴ ــ ۶۸ «ن»: دا د کابل د سیند د کیني غاړې په اوږدو کي له جلریزو شاوخوا شپږ مایله کوز د غلزیو دوه کلي دي. د «ماموکی» نوم په همدې ګاونډ کي د کابل د سیند دري ته هم اطلاق کـېـږي.

* **مامونه**: **ممونه**: [23]: ۹ ــ ۳۳، ۳۱ ــ ۶۹ «ن»: دا د غزني په ولايت کي د «سپـــیرې» [24] د سویل په نـبـږدې ۶ مایلی کي د «تـنګي» [25] د یوې څانګي په اوږدو کي یو کلی دی.

* **مامونده**: **مامنده**: [26]: دا د کونړ په ولايت کي د «سرکاني» [27] د سویل په نـبــږدې ۸ مایلی کي د پاکستان کرښي ته نـبــږدې یو کلی دی.

* **مامور خیل**: [28]: ۴۷ ــ ۳۲، ۲۸ ــ ۶۸ «ن»: دا د غزني په ولايت کي د ,,خیر کوټ،، په سویل کي او د ,,جاني خیلو،، په ختیځ کي یو کلی دی.

---

15-Bazid Khel
16-Mayar -i -Akbar Khan
17 -MAMI
18 -MAMO GHANDI
19 -Gabar Mangals
20 -MAMOZAI
21 -MAMRAI
22 -MAMUKA Or MAMAKI
23 -MAMUNA
24-Spera
25-Tangai
26 -MAMUNDA
27 -Sarkani
28 -MAMURKHEL


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

* **منه: منه**: [29]: ۱- ۳۴، ۳۵ – ۶۹ «ن»: دا د لوګر په ولایت کې د «ازرو» [30] د سویل په قریب لس مایلی کې «جبي کلي» ته نېږدې یو کلی دی. په دې نوم یو بل کلی د تنګي د یوې څانګې په اوږدو کې د پکتیا په ولایت کې د سپېرې د سویل په نېږدې درې مایلی کې په ۸ – ۳۳، ۳۱ – ۶۹ «ن» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

* **مني: ماني**: [31]: ۵ – ۳۴، ۱۷ – ۶۹ «ن»: دا د لوګر په ولایت کې د زرغون ښار په سویل ختیځ کې یو کلی دی.

**منان ګل**: [32]: دا یو سیند دی چې مخ پر پورتني باشګل ورکوزېږي. – وګورئ: «منجام» [33]

* **منداګل خولـهٔ**: مندګل خولـهٔ: [34]: ۲۸ – ۳۵، ۱۷ – ۷۱ «ن»: دا د «اور مړ/ اورمول؟» [35] د شمال لویدیځ په شاوخوا ۶ مایلی کې د «کانتوز روډ» [36] د غاړې په اوږدو کې یو کلی دی. دې کلي ته نېږدې «منداګل سفلی» [37] په ۱۷ – ۳۵، ۱۹ – ۷۱ «ن» کې موقعیت لري.

**مندال: مندل**: ۳۵، ـ ۷۱: لوړوالی :۱۵۳۰۰ فیته. دا په هندوکش کې یو سخت کوتل دی چې د باشګل له درې څخه په بدخشان کې تر منجان پورې منتهي کېږي. منجاني سوداګر له خپلو یابو ګانو سره چې د څارویو په وچو پوستکو او نورو سوداګریزو توکو درانده بار دي له دې کوتل څخه تېرېږي خو دا کوتل حقیقتاً چې د آسونو د تګ لپاره عملي نهٔ دی. سړک د ۸۵۳۰ فیتو په لوړوالي کې «احمد دیوانه» [38] ته په نېږدې کیدلو سره د «ایمرا» [39] زیارت ته نېږدې له سیند څخه تېرېږي او د سیند کینه غاړه نیسي. دا لاره آسانه ده او ختل ئې تدریجي دي. سړک په پینځم مایل کې له یوهٔ جهیل یا د اوبو له بند څخه تېرېږي د همدې جهیل له منځه سیند په آرامۍ سره بهېږي. دوه مایله وړاندې ډیرې پریمانه اوبهٔ دي ؛ دلته د سیند په غاړه کې د ولې د ونو یو ځنګل دی چې ځانته ئې د کوچنیو جهیلونو په منځ کې ځای موندلی دی. په ۱۰۲۵۰ فیتو کې نورې ونې نهٔ سته او سون توکي باید په ۱۱۰۰۰ فیتو کې «سنګر» ته راوړل سي یعنې دې سنګر کې یو کوچنی کمپ جوړیدای سي. له احمد دیوانه څخه واټن ۸ مایله دی. په دې پسې سړک (د ۱۸۹۱ز کال د جون د میاشتي لومړۍ نیټه) تر ۲/۱ – ۷ مایلو پورې د واورو په منځ کې چې لار او لور نهٔ لري تر هغو پر مخ ځي چې د کوتل سر ته ورسېږي. دره لومړی شمال ته او بیا سویل تاوېږي او ورپسې کیڼ لاس ته تاوېږي چې په خپله کوتل له ختیځه مخ پر لویدیځ پروت دی. د لارې سختي په لومړیو کې تر ۱۵۰۰ فیتو پورې آسانه ده خو له دې وروسته ډېر سخت کېږي، خو دا سختي یوازې د ختلو د لارې د وروستیو ۴۰۰ فیتو په اندازې زښته ډېره نهٔ ده، ځکه دغه ۴۰۰ فیته دومره سخت دي لکه چې څوک د کور بام ته په خاپوړو وخېږي. د جراح – جګړن رابرتسن ډلې خپل تګ د سهار

---

[29] -MANA
[30] -Azro
[31] -MANAI
[32]-MANANGUL
[33]-Manjam
[34]-MANDAGAL KHOLEH
[35]-Urmul
[36]-Kantuz Rud
[37]-Mandagal Sufla
[38]-Ahmad Diwana
[39]-Imra's shrine

پر څلورو بجو پیل کړ او کله چې د کوتل د سر ژۍ ته ورسیده نو لمر په ټول قوت ځلیده. نتیجتاً واورو هم هر پل ته لاره ورکوله. د منجان د کوتل په خوا کې د ۵۰۰ فیټو په اوږدوالي د کوزیدلو یوه زښته ډیره شیوه او سرخوړې لاره ده؛ له هغۀ وروسته د مایل د ثلث په اندازې په خپلې نسبتاً شدیدې سختې دوام مومي. په دې پسې لاره د لړ و ډېر هموار والي په لرلو سره آسانه کېږي او د لارې په اوږدو کې په څو سرخوړلو ځایونو باندې ورکوزېږي. کله چې واورې ورکې سي د نېږدې ۱۳۰۰۰ فیټو په لوړوالي دا لاره د «پورتنی کوکچې؟» د سیند په ژۍ کې د تخته سنګو له سره په څلونو څلونو له سینده تېرېږي او راتېرېږي. دره تنګه او مارپیچه ده او د آسونو د تګ لپاره عملي نۀ ده. دره په ۲/۱ – ۱۴ مایل کې پراخېږي او په یوې دښتې بدلېږي چې د ولې او د غان د ونو په ځنګل پوښلې ده، لوړوالی ئې ۱۱۵۰۰ فیټه دی او همدلته د کمپ لپاره ښۀ ځای دی. د دښتې له پورتنی برخې پرته چې د درې د تنګې برخې پیل دی، دښته نوره ټوله محاط ده ؛ د دښتې په کوزنی برخې کې د بې شمېرو ویالو اوبۀ په یوۀ بهیر کې راټولېږي او د هغې غرنی مانع په انتها کې بهېږي چې ګرد چاپېره تر دښتې راتاو ده. په دې پسې لاره له سیند پورته او د سیند په کینه غاړه کې پر مخ تللې ده، سیند دلته چټک او سیلابي کېږي او د تخته سنګو له سره، او له احمد دیوانه څخه ۲/۱ – ۱۹ یا ۲/۱ – ۲۷ مایله لیرې د «پپ» یا «پیپ» [40] له کوچنی کلي راتاو له ډېرینو سیمو او ځایونو څخه راکوزېږي. (رابرتسن)

**منداوړ**: وګورئ: مندراوړ

* **مندي**: ۲۲ – ۳۴، ۶ – ۶۷ «ن»: دا د بامیانو په ولایت کې د «پنج آو» په سویل ختیځ کې په دراز قول کې یو کلی دی.

**مندراوړ**: یا: **منداوړ**: ۳۳ – ۳۴، ۱۳ – ۷۰ «الف»: دا د لغمان په کلیو کې یو اساسي کلی دی چې د الیشنګ – الینګار سیند په ښۍ غاړه کې د کابل له سیند سره د یو ځای کیدلو له ټکي پینځه مایله پورته واقع دی. مندراوړ له لاندنیو کوچنیو کلیو څخه جوړ سوی دی:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | دیـپـي | Dipi |
| ۲ | کشمش آباد | Kismishabad |
| ۳ | قلعۀ قاضي | |
| ۴ | قلعۀ خواجه محمد | |
| ۵ | عبدالرحیم خیل | |

د مندراوړ استوګن وګړي تقریباً ټول له یوې مخې تاجیکان دي. په مندراوړ کې د هندو سوداګرو یوه ډېره لویه ټولنه هم سته. دلته اوبۀ او اړتیا توکي پریمانه دي خو ګرانه به وي چې د کمپ لپاره ځای پیدا سي ځکه دلته پریمانه پټي دي او ډېره کرهنه په کې سوې ده او بې شمېره قبرستانونه دي.

په مندراوړ کې دوه سړکونه تقاطع کوي، یو سړک ئې له جلال آباد څخه د الیشنګ تر درې پورې راغلی او بله لار ئې د عصمت الله خان له کلا څخه د «ګودي» [41] له لارې تر نغلو پورې تللې ده. (هولدیچ، واربرتن، آی. بي. سي)

**مندوخیل**: وګورئ: لوهاني

---

[40]-Pip or Peip
[41] -Goudi


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**مندول:** [42]: دا د سیاه پوش کفارو یوه قبیـله ده چې د «کندهٔ نیل» [43] د درې په یوې برخې کې استوګنه ده. دا قبیـله پخوا د «شم کت» [44] په درې کې اوسیدله، د شم کت دره د لغمان په لویدیځ کې پرته ده چې ۱۴ کوچنی تنګي درې لري، دا قبیله د امپراتور جهانګیر د سلطنت پر مهال له دې سیمې څخه وایستل سوه. (راورتي) یاد داشت: ښایي دا هماغه د «مدوګـَـل» [45] قبیـله وي.

**مندوزي:** دا د شینوارو یوه لویه څانګه ده.

*** مندوزي:** ۱۸ – ۳۳، ۴۷ – ۶۹: مندوزي د پکتیا د ولایت یوه علاقه داري ده. دا علاقه داري ۱۱۲ کیلومتر مربع مساحت لري او د اوګړ شمـېـر ئـې د ۲۴۹۷۰ تر ۲۷۱۸۰ تـنو تر منځ چې بزګرې پرګنې دي اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لویدیځ لوري له نادر شاه کوټ، له سویل لوري له تـنیو، له سویل ختیځ لوري له ګربز او له ختیځ لوري له خوست سره کرښه لري. مندوزي ۳۶ کلي لري چې ۲۳ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي.

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| عمر کلی «عمر ګل» | | Khozi Khel | خوزي خیل | Delfori (Delpori) | | دلفوري «دل پُري» | |
| Matta Khan | متا خان | Dad wal | داد وال | Manbo Kalai | من بو کلی | Pastina | پس تینه |
| Shamshi Khel | شمشي خیل | Kabul Khel | کابل خیل | برخان خیل | | Gedal Kalai | ګِدَل کلی |
| Warza Lewan Khel (Warza - Sun Khel) | | ورځه لیوان خیل «ورځه سن خیل» | | Tsarbanai | څاربانې | Ziray Terkha | زیرې ترخه |
| پاینده خیل | | Chandar Khel (Chandi Khel) | | چندړ خیل «چاندي خیل» | | Dray Koti | درې کوټي |
| حسن زي | | بهرام خیل | | Dur Namay | دُرنامي | حسن محمد | |
| دیګان او منګل | | Ali Wat | علي وټ | Darwi Khel | دروي خیل | Shaddal | شډل |
| سنِ سوراخ «تـنِ سوراخ» | | Shabi Khel | شابي خیل | Kacha Khel | کچه خیل | Degan Wa Mangal | |
| تور خیل | | علي خان خیل | | Musha Khana | مُشه خانه | Sun-i-Sarakh (Tani -i -Sarak h) | |
| عبدالکریم میران | | Melani | میلاني | خاني خیل | | Ar Khel | ار خیل |
| Tar khel | ترخیل | Haidar Khel | | حیدر خیل | | Abdul Karim- i- Miran | |

*** منګل:** ۵۱ – ۳۲، ۱۶ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د اورګون په سویل ختیځ او د «پیر کوټي» [46] په سویل کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل کلی د کونړ په ولایت کې د کامدیش په شمال کې په ۲۹ – ۳۵، ۱۸ – ۷۱ «ج» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

42 -MANDUL
43 -Kanda -i -Nil
44 -Shamakat valley
45 -Madugal
46-Pir Koti


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**منګل:** ۸ – ۳۴، ۴۳ – ۶۹ «الف»: دا يو کلی دی چې له بـيلوت ښځه د حصارک پر لور ۱۲ مايله ليرې لاړي کې واقع دی. دې کلي کې ۴۰۰ کورونه دي. استوګن وګړي: غلزي. دلته لرګي او اوبـهٔ پريمانه دي، اړتياتوکي تر لاسه کيدای سي. دلته د ۳۰ تـنو خاصه دارانو يوه قرارګاه هم سته. (آی. بي. سي)

**منګل:** دا يوه قبـيلـه ده چې د کورم د درې په سويلي او پورتنی برخې کې او هم د زرمت په يوې برخې کې استوګنه ده. د دې قبيلې اساسي ويش په دې ډول دی:

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ميران خيل | Miran Khel |
| ۲ | خجوري | Khajuri |
| ۳ | ګبر | Gabar |
| ۴ | مـَــرغي | Marghai |
| ۵ | کمال خيل | Kamal Khel |

په پورتينو څانګو کې ميران خيل ډېـر پياوړي دي ؛ د دې څانګې مشر د نورو ټولو څانګو مشر هم دی. دې قبـيلې په اوسمهال کې امير او زامنو ته ئـي درې ميرمني ورکړي دي. ويل سوي چې منګل ۲۵۰ کلاګاني او ۵۰۰ توري کـېـږدی لري او کولای سي ۸۰۰۰ تنه جنګيالي چمتو کاندي.

ويل سوي چې منګل په خپلو طبيعي ليوالتياوو کې غلــهٔ وزمه يا غلــهٔ ډوله خلک دي؛ دوی د پيوار په کوتل کې يو برج نيولی دی، کله چې په دې لاره له تـېـريدونکو مسافرينو څخه حق العبور اخلي هغوی چې بې دفاع دي لوټي ئـي او پياوړ ته پټ پټ او غلي غلي تاوېـږي؛ دوی د رهنماوو په شان عمل کوي او له «توريانو» [47] څخه چې د لوګر درې يا کابل ته ځي د خوندي تـېـريدلو په نوم پيسې اخلي.

د ۱۸۵۸ز کال د اپريل په مياشت کې محمدعظيم په تـېـرو شلو کلونو کې د لومړي ځل لپاره له ځمکنيو څخه ماليه راټوله کړله. له محمد عظيم سره په ټينګه او پياوړې توګه مخالفت وسو خو د ماليې د راټولولو پر مهال ئـي خپل څو تنه سرتـيـري له لاسه ورکړل. داسي ښکاري چې دوی د سرتـيـرو له رسيدلو ډېـر لږ وروسته په زړهٔ نازړهٔ توګه خپله ماليه ورکړه خو د افغان سرتـيـرو د کړو وړو دوی نوميدې ته اړ ايستل نو ځکه ئـي د خپلو ماشومانو د شرف او آبرو لپاره جګړې ته لاس پورې کړ.

هغه شرحه چې ښاغلي عباس آغا ورکړې ده په ډېـريو جزئـياتو کې له پورتـنـی خبرې سره سمون خوري خو په زرمت کې د منګلو په هکله څـهٔ نــهٔ وايي او دا د دوی د قدرت د کوچني اټکل يعني ۳۰۰۰ جنګياليو ځرګندويه ده.

منګلو د افغان جګړې د ۱۸۷۸ – ۱۸۸۰ز کال په لړ کې د کورم پر کرښې باندې ستر سرخوږی رامنځته کړی وو او وخت ناوخته به ئـي پوستي ربړولي او په کاروانونو به ئـي بريدونه کول. د ۱۸۷۸ز کال د دسمبر د مياشتي په ديارلسمي نيټې د سر فريدريک رابرتس د پوځي کتار وروستی محافظتي برخې چې د «ځيری/ سپری» [48] د کوتل له لاري له علي خيلو څخه د کورم پر لور سيمه ئـي پلټله تر بريد لاندې راغله او تلفات ئـي وګالل، په دې تلفاتو کې يو برتانوی افسر (تورن ګواد) په مرګوني ټپ ټپي سو؛ منګل ډېـر ژر په شا وتمبول سول او زښت ډېـر تلفات ئـي وګالل. داسې ښکاري چې دا

---

[47]-Turis
[48] -Sapri pass


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په غير و لولئ

قبیله د خوست او هاریوب د افغان حاکمانو پر وړاندې بغاوت کې ده، منګل د دوی د صلاحیت دایره ډېره لږ ګني. د منګلو یوه ستره شمېره وخت ناوخته برتانوي قلمرو ته د خپلو افغان واکمنو د ظلم له لاسه راتښتي. (لمسدن، آغا عباس، دانالد، آی. بي. سي)

* **منګل خیل چینه:** ۲۸ ــ ۳۳، ۱۱ ــ ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د زرمت او ګردیز تر منځ یو کلی دی.

**منګل منزل:** [49]: ۳۴، ــ ۶۹: دا د «پتلا»، «نرګسي» «ساو» [50] او د سرخاب د سیند د بلې غاړې له لارې د خوګیانیو په سیمې کې د «توتو» او علي خیلو تر منځ یو ځای دی. (آی. بي. سي)

* **منګاره توی:** [51]: ۴۵ ــ ۳۲، ۱ ــ ۶۹ «ن»: دا د پکتیا د ولایت په سویل کې د سروبي د سویل لویدیځ په نیږدې ۵ مایلۍ کې یو کلی دی.

**منګسک تګاو:** [52]: دا یوه ژوره تنګه اوږده دره ده چې اوبهٔ ئې شمال لور ته پر هلمند ورکوزېږي.

**منګستوره:** [53]: دا د سپین غرهٔ د غرنۍ لړۍ په شمال کې د «مهمند یا مهان دره» [54] په لویدیځ کې یوه دره ده. دا دره زښته ډېره حاصلخیزه ده او هندوستان له همدې ځایه ډېرې انار واردوي. (مور کرافت)

**منګیار خولهٔ:** [55]: دا د کاریاره د سیند یوه ناله ده چې په «خارکي» [56] کې له دې سیند سره یو ځای کېږي. له دې نالې پورته یوه لاره د څېرۍ د کوتل له سره تر علي خیلو پورې تللې ده. (آی. بي. سي) د «منګیار» په نوم یو کلی د پکتیا په ولایت کې په څمکنیو کې په ۵۰ ــ ۳۳، ۴۷ ــ ۶۹ «ج» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**منګینه:** [57]: دا د حصارک په درې کې یو کلی دی چې د شینوارو ۳۰۰ کورونه په کې ودان دي. (مک ګریګر)

**منګروټي:** وګورئ: برمل : [58]:

**منګو:** [59]: ۵۳ ــ ۳۴، ۲۳ ــ ۷۰ «ن»: دا په لغمان کې یوه قرارګاه ده. د منګو په ګارنیزیون کې (په ۱۹۰۵ز کال کې د سپارهٔ ځواک یوه رساله، دوه غرني توپونه، سل نیزه لرونکي او نقب وهونکي او د پلې ځواک دوه کندکونه ول. (آی. بي. سي) دا کلی د الینګار په شمال ختیځ کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

---

49 -MANGAL MAN Z I L
50 -Petla, Nargasi, Sao
51 -MANGARA TOY
52 -MANGASAK TAGAO
53 -MANGASTURA
54 -Mahmand, or Mahman, Dara
55 -MANG I AR KHULA
56 -Kharki
57 -MANG I NA
58 -MANGROTAI See B I RMAL
59 -Mangu


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**منګو خیل**: ۵۹ – ۳۳، ۲ – ۶۹ «ن»: دا د لوګر د سیند د ښی غاړې په اوږدو کې د تنګي واغ جان د سویل په ۱۲ مایلۍ کې یو کلی دی. استوګن وګړي: آستانه زي غلزي. په ۱۸۸۰ز کال کې منګوخیلو او ګاونډي کلي ئـې فتح خیلو سل کورنۍ درلودلې. (ایوان سمیث، کلیفرډ)

* **منجکه**: منځکه : [60] : ۲۶ – ۳۳، ۳۶ – ۶۹ «ن»: دا د پکتیا په ولایت کې د خوست په شمال لویدیځ کې د جاني خیلو او «خیر اسپان» [61] تر منځ یو کلی دی.

**منجام**: [62]: – ۳۵، – ۷۱: لوړوالی: ۱۳۴۵۰فیټه. دا په کافرستان کې یو کوتل دی چې د «پیټي ګل» [63] له سره تر «باشګل» [64] پورې لاره وربانديې تـېـرېـږي. د پیټي ګل له کلي څخه چې ۵۰۰۰ فیټه لوړوالی لري دره په لړ کږیدلو سره مخ پر شمال لویدیځ پورته کـېـږي. جراح – جګړن رابرټسن د منجام تر لمن پورې دوه لنډ مارشونه وکړل چې ۲/۱ – ۱ یا ۲ مایله واټن ئـې درلود. رابرټسن په دریمي ورځ له کوتل څخه واوښت او په «پشل» [65] کې ئـې د درې په نیمایي کې په یوې نسبتاً لوړې دښتي کې کمپ وواهـهٔ. رابرټسن په څلورمي ورځ د درې تر هغـهٔ ټکي پورې مارش وکړ چې دره د «منان ګل» [66] پر سیند ورکوزیـږي، نوموړی دلته د سیند له کیڼې غاړې څخه د سیند ښی غاړې ته واوښت او همداسي برګ متال ته لاړ. د دې لارې ټول واټن ښايي ۲۴ مایله وي او ټوله لاره ئـې آسانه ده. (رابرټسن)

**منجان**: [67]: دا په لغمان کې یو کلی دی. استوګن وګړي: کوهستانیان. (واربرټن)

* **منجر خیل**: مانجرخیل: [68] :۲ – ۳۴، ۲۱ – ۶۸ «ن»: دا د میدان د ولایت په سویل کې د «کوټ» او «میرزابک» [69] تر منځ یو کلی دی.

منجور: منجه دور: [70] :۲۶ – ۳۵، ۴۰ – ۶۹ «ن»: دا د پنجشیر د سیند د کیڼي غاړې په اوږدو کې یو کلی دی چې د «منجه هور درې» [71] په خولـهٔ کې له «بازارک» [72] څخه ۲ مایله پورته واقع دی؛ او د تاجیکانو ۸۰ کورنی په کې میشتي دي. (شهزاده تیموس) اوسنی نقشي د «منجه دور» نوم ښيي. (لودویګ آدمک)

**منجو**: دا د دایزنګي د لال په علاقې کې یو کوچنی کلی دی چې لس کورونه لري.

**منجوني**: دا د جلال آباد په ولسوالي کې یو کلی دی چې د «بتي کوټ» د سویل لویدیځ په نـبـږدې ۴ مایلی کې واقع دی. استوګن وګړي: تـېـراهیان. (جنکینز)

---

60 -MANJAKA
61 -Khairaspan
62 -MANJAM
63 -Pittigul
64 -Bashgul
65 -pshal
66-Manangul
67-MANJAN
68-MANJARKHEL
69-Mirzabek and Kot
70-MANJOR or MANJADOR
71-Manjahor Dara
72-Bazarak


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

**منصور کاریز:** ۳۲ ـ ۳۲، ۴۹ ـ ۶۷ «ج»: دا د غلزیو په سیمي کي له غزني څخه ۹ مایله او له کویټي څخه ۲۰۵ مایله لیرې د آب ایستاده په سویل لویدیځ ګوټ کي د تره کي غلزیو یو کلی دی چي شپږ کلاګاني لري. اوبـۀ له یو شمـېـر ترناونو یا سیفونو څخه تر لاسه کیدای سي. دا د غلزیو په خپلواکي سیمي کي له شمال لوري لومړی منزل دی. دلته څلور سړکونه له یو بل سره تقاطع کوي یعني: د مقر، مارغي، زرمت او کتواز سړکونه. (کمپبل، اوترام، براد فوټ)

**منو:** مانو: [73]: ۱۵ـ ۳۴، ۱۹ ـ ۷۰ «ن»: دا د باد پیں د کوتل په شمال کي د درې په سر کي یو کلی دی. (یانګ) په دې نوم نور **ځایونه:** د لغمان په ولایت کي د الینګار په سویل لویدیځ کي «کمکي» [74] ته نـېـږدې په ۴۶ ـ ۳۴، ۱۴ـ ۷۰ «ن» کي، او د کونړ د سیند د غاړي په اوږدو کي د «چکی/ څوکی؟» [75] په شمال ختیځ کي په ۴۴ ـ ۳۴، ۵۵ ـ ۷۰ «ن» کي موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**منوګی:** مانوګی: [76]: ۱۴ ـ ۳۴، ۲ ـ ۷۰ «ج»: دا د ګندمک د سویل په ۵ مایلی کي ماماخیلو ته نـېـږدې یو کلی دی چي د مالیاتي مقاصدو لپاره له ماماخیلو سره یو ګڼل سوی دی. استوګن وګړي: شیرزاد خوګیاني. (جنکینز) اوسنی نقشي د «منکي» [77] نوم په ۱۵ ـ ۳۴، ۷ـ ۷۰ «ن» کي ښیي. (لودویګ آدمک)

* **منو کلا:** مانو کلا : [78]: ۳۹ ـ ۳۴، ۵۴ ـ ۶۹ «ن»: دا د سروبي په شمال ختیځ کي د کابل په ولایت کي «لخي» ته نـېـږدې یو کلی دی.

## نور بیا

**مانو و ماهوره** : دا یو کلی دی چي

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د بناغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

[73]-MANU
[74]-Kamkai
[75]-Chakai
[76]-MANUGAI
[77]-Mankai
[78]-MANU KALA


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ